ليکوال: شريف بهاند

# دريمه زرېزه:
# د امريکا متحده ايالتونه، ناتو او نړيوال نظم

هيڅ شی په ناڅاپی ډول نه پيښږي،که پيښ هم شی، هغه به په هم دې ډول پلان شوي وي . **"روزولت"**

جيوپوليتيکي څېړنه

د سوسياليستی نظام په ړنګيدو سره، يا په بله وينا په نړيوال نظم کې رامنځته شوو بدلونونو او پرمختياوو د پانګوالي نظام د ځينو هيوادونو له پاره په نړيواله کچه ډيرې مهمې لاسته راوړنې رامنځته کړې دي.
د تيرې پيړی په وروستي لسيزې کې دغه رامنځته شوي بدلونونه او پرمختياوي موږ ته دا را په ګوته کوي، چې څواک د دولتونو د بنسټيزو ملی ګټو سمبالونکی ګڼل کيږي. دغه واقعيت ته په پاملرنې سره ده، چې سياسی واحدونه په هاند و هڅه کې دي، په يو ډول نه يو ډول خپل څواک ته پراختيا ورکړي او له هغه څخه په ګټې اخيستنې سره نه يوازې په ملي، بلکې تر ټولو دمخه په نړيواله کچه خپلي اوسنې ګټې وساتلی او د نويو ګټو د تر لاسه کولو له پاره هڅې وکړی شي.
پوځې څواک، ملی روحيه، غوړيدلی اقتصاد، د وګړو شمېر، ملی ځانګړتياوې، څواکمنه رهبري، جيوپولټيکي پريوت (موقعيت) او د طبيعي زيرمو لرل او يا پر هغو باندې ولکه د څواک له عواملو څخه ګڼل کيږي. څنګه چې ليدل کيږي، د سړې جګړې په پای ته رسيدو سره، په نړيوالو اړيکو کې پوځې اړخ خپل ځای اقتصادي هغه ته پريښود او په دې توګه جيوستراتيژيکو معادلو خپل ځای جيوايکونوميکو هغو ته ورکړ. له همدې امله اوس د نړيوالو سترو څواکونو، په تيره د يوازينی زبر څواک، يانی د امريکا د متحدو ايالتونو، يوه تر ټولو ستره موخه (هدف) پر طبيعي او په تيره بيا پر هايدروکاربني زيرمو باندې برلاسی دئ، چې د دوی د اقتصادي خوځښت (محرک اقتصادی) بنسټيز لامَل ګڼل کيږي. د يادونې وړ ده، چې هر ډول طبيعي زيرمي او کاني توکي هم دومره د ارزښت وړ نه دي. د سترو صنعتي هيوادونو ځانګيزو څيړونکو ځينی کاني توکي د خپلو اړتياوو له پاره اړين بللي دي. څکه دا ډول کاني توکي:
**الف:** يا د پوځي کړو وړو او همدارنګه د وسلو د جوړولو له پاره اړين بلل کيږي،
**ب:** يا په سترو صنعتي او يا هم د هغو په دوستو هيوادونو کې نه موندل کيږي او که وموندل هم شي د هغو اندازه لږه او هومره د پام وړ نه ده،
**ج:** نور وړ کيمياوي توکي، چې د هغو پر ځای ورڅخه ګټه واخيستل شي، لا نه دي ترلاسه شوي (وګورئ، Schoultz, Larz, 1987, S. 143-157).
دغه توکي د نورو تر څنګ سره زر، کلمبيوم، نکل، قلعی، پلوتونيوم، تانتالوم، تيتانيوم ... او داسی نور دي. د دغو کاني توکو تر څنګ يورانيوم، ګاز، نفت او د نفتي توکو توليدات هم د سترو صنعتي هيوادونو د اقتصاد او ټولني له پاره له تر ټولو ژونديز مواد بلل کيږي.
د طبيعي زيرمو زياتوالی او يا د هغو لږوالی، په بله وينا د طبيعي زيرمو نا انډوله ويش يو له هغو مهمو لامَلونو څخه ګڼل کيږي، چې سترو څواکونو په تير او اوس وخت کې د ملی امنيت ستراتيژي د هغو پر بنسټ طرحه کوله او يا يې هم طرحه کوی. څکه د جيوپوليتيک پر بنسټ لکه د تيرې پيړی په څير په يوويشتمه پيړی کې هم برلاسه څواک، هغه هيواد او يا د هيوادونو هغه ټلواله (ائتلاف) ده، چې پر طبيعي او په تيره بيا د انرژی پر زيرمو باندې په پشپړه توګه واکمنه وي. خو لکه څنګه چې د دريمي زرېزې په پيل کې وينو، د وارسا د پوځي تړون په له منځه تلو سره، د هغه سيالې ټلواله، يانی د ناتو پوځي تړون، د دې موخي د تر لاسه کولو له پاره هڅه او هاند کوی، څو خپله ستراتيژي د غړو هيوادونو د اوسنيو سياسي او امنيتي اړينو شرطونو له په پام کې نيولو سره نوی کړي. په دې برخه کې لومړني ګامونه ان د ۱۹۹۱ کال د نومبر په اومه او اتمه نيټه د ايتاليا په پلازمېنې- روم کې اخيستل شوي وو. د تيرې پيړی د وروستی لسيزې په پيل کې ويل شوی و، چې د وارسا د پخواني پوځي تړون غړي هيوادونه نور د دوي له پاره کوم ګواښ نه ګڼل کيږي، بلګې بنسټيز ګواښونه طبيعي زيرمو ته لاره، د کيمياوي او بيولوژيکي وسلو د جوړولو د توکو پراختيا او همدارنګه نړيواله ترهګري ده. د ناتو غړو هيوادونو د پورتنيو ګواښونو هوارول او يا د هغو له منځه وړل د لومړی ځل له پاره د خپلو پوځيانو دنده وبلله. هغو ته په خپله د ناتو د دکترينو Doktrin په بنسټيزو ټکو کې هم په روښانه توګه نغوته (اشاره) شوې، چې د نورو تر څنګ د هغه مهم ټکي په لاندې ډول دي:
"۱ - د شمالی اتلانتيک او اروپا له سيمو څخه ټولی نړۍ ته د ناتو د عملياتو پراختيا؛
۲ - د ملګرو ملتونو له باور ليک (اجازې) پرته د عملياتو تر سره کول او د ناتو د تړون د رول پراختيا؛
۳ - له اړتيا سره سم او له مخکيني اعلام څخه پرته د اټومي وسلو کارول" ( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S.1).

د پورتنیو ټکو له په پام کې نیولو سره، د امریکا د متحدو ایالتونو حکومت د دې غوښتونکی دئ، چې د ناتو د تړون یرغلیز عملیات دې د نړۍ هرې برخې ته پراخ کړی شي. د دغه هیواد د بهرنیو چارو د پخواني وزیرې، مادلین البرایت په اند، د ناتو تړون به " له نږدی ختیځه نیولی بیا تر مرکزی افریقا پورې دسولې یو ځواک وګرځي"( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S.1). نوموړې په دې توګه د خپل هیواد د پام وړ سیمې (د ګټو سیمې) په څرګند ډول په ګوته کړې. البرایت زیاته کړې:" لاسوهنه له دې سره تړاو لری، چې یوه سیمه له ستراتیژیک پلوه څومره د ارزښت وړ ده" ( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S.1). آیا ځینې سیمې د دې ارزښت لری، چې سړی د اوسنیو شرطونو له په پام کې نیولو سره هغو ته نظر واچوي او که نه؟ خو کومې سیمې چې د جیوستراتیژیک له پلوه د متحدو ایالتونو له پاره د پام وړ دي، هغه د نورو تر څنګ د اروپا- اسیا Eurasien ، منځني ختیځ، بالقان او د مرکزی اسیا سیمې دي. د اروپا- اسیا د سیمې په باب د متحدو ایالتونو د پخواني ولسمشر، جیمی کارتر د ملی امنیت سلاکار، زبیګنیو بریژینسکی ویلي:"هر هغه ځوک چې د اروپا- اسیا [سیمې] تر خپلې ولکې لاندې ولري، نو ښایي د نړۍ د تر ټولو پرمختللو او له اقتصادي پلوه اغیزمنو سیمو له دریوو څخه پر دوو باندې واک وچلوي. یوازې نقشې ته نظر اچول دا روښانه کوي، چې پر اروپا- اسیا باندې کنترول څه نا څه په اتوماتیک ډول پر افریقا باندې کنترول هم دئ" (Brzezinki, Zbigniew, 2003, S. 54 ). ... ځکه نو "اروپا- اسیا د سطرنج هغه تخته ده، چې پر نړۍ باندې د راتلونکې برلاسی (تفوق) له پاره لوبه پرې تر سره کیږي" ( Brzezinki, Zbigniew, 2003, S. 57 ). په دغې سیمې کې د نړۍ څه نا څه پینځه اویا په سلو کې وګړي ژوند کوي. همدارنګه په هغې کې د نړیوال ټولنیز نا سوچه (ناخالص) تولید شپیته په سلو کې تولیدیږي (وګورئ: لاندینی لښتی [جدولونه]). تر ټولو مهمه دا چې په دې سیمې کې د انرژۍ د پېژندل شوو زېرمو څه نا څه درې پر څلورمه برخه پرته ده.

نړۍ: سیمه (ساحه) په میلیون کیلومتر مربع

| سیمې | اروپا- اسیا | افریقا او منځنی ختیځ | سوېلي امریکا | شمالي امریکا |
|---|---|---|---|---|
| مساحت | ۴۹,۸۹۴,۳۳۷ | ۳۲,۸۶۷,۷۰۵ | ۲۸,۱۷۶,۲۲۳ | ۲۳,۴۹۶,۹۰۰ |

نړۍ: د وګړو شمېر په میلیون

| سیمې | اروپا- اسیا | افریقا او منځنی ختیځ | سوېلي امریکا | شمالي امریکا |
|---|---|---|---|---|
| وګړي | ۴,۰۵۳,۴۵۵,۳۷۴ | ۷۶۹,۶۶۰,۷۲۸ | ۳۳۴,۹۱۶,۶۶۲ | ۳۸۶,۲۹۲,۰۳۶ |

نړۍ:  نړیوال ټولنیز نا سوچه (ناخالصه) تولید په میلیارد ډالرو

| سیمې | اروپا- اسیا | افریقا او منځنی ختیځ | سوېلي امریکا | شمالي امریکا |
|---|---|---|---|---|
| تولید | ۳۴,۰۰۰ | ۱,۵۰۰ | ۱,۷۵۰ | ۸,۱۰۰ |

اخځ:

Brzezinki, Zbigniew, Die einzige Weltmacht, 2003, S. 56

د اروپا- اسیا په سیمه کې د ساری په توګه د روسیې فدراسیون او د چین ولسی جمهوریت په څېر داسې مهم هیوادونه پراته دي، چې نه یوازې له ستراتیژیک پلوه مهم دي، بلکې د دې ډول سیاست فعال لوبغاړي هم دي." په همدې سیمې کې پریکړه کیږي، چې آیا د روسیې فدراسیون به د نړیوال ځواک په توګه خپل دریځ بیرته ترلاسه او چین به وکولی شي، چې دغه دریځ ته ځان ورسوي او که نه. ځکه دغه دواړه هیوادونه په سیمه کې فعال جیوپولیتیک پلې کوي او په احتمالی توګه د امریکا د متحدو ایالتونو له برابرو سیمه ییزو سیالانو څخه ګڼل کیږي. ځکه نو متحدو ایالتونو دغه دواړه هیوادونه تر خپلې ځانګړې پاملرنې لاندې نیولي دي" (Mayer / Schmid, 1999, S. 23). خو متحده ایالتونه تر اوسه لا د دغې سیمې په څنډو کې شتوالی لری، چیرته چې د جیوپولټیکي فعالیت ارزښتناکه ټکي او همدارنګه تر ټولو مهم جیوستراتیژیک لوبغاړي لکه روسیه، چین او ایران پراته دي.

د دغو هیوادونو تر څنګ د اروپا- اسیا په سیمه کې دوهمه ډیره مهمه سیمه قفقاز او منځنۍ اسیا او د هغو په ډله کې په ځانګړی توګه د آذربایجان هیواد دئ. دلته د کسپین د سمندرګي په شا و خوا کې تر هرڅه دمخه د نفتو او ګازو زیرمې ستر رول لوبوي. منځنۍ اسیا او په تیره د قفقاز سیمې ته د متحدو ایالتونو " د نوې پیړۍ له پاره د ملی امنیت په ستراتیژۍ" کې ځانګړی ځای ورکړل شوی او په هغې کې د دې سیمې په اړه راغلي: " د کسپین سمندرګی به، چې د اټکل له مخې ۱۶۰ میلیارده بیرله نفتي زیرمې په کې پرتې دي، په راتلونکو لسیزو کې د انرژۍ له پاره د زیاتیدونکو اړتیاوو په له منځه وړلو کې لا زیات او ارزښتناکه رول ولوبوي" ( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 3). خو ځانګیز پوهان د بیلګې په توګه آدامز Adams وایي، چې د نړیوالو خبرې رسنیو، په تیره بیا د متحدو ایالتونو د وروستیو وختونو په رپوټونو کې د سیمې د نفتي زیرمو په باب  ډیرې اوازې خپرې شوې دي. په

دغو رپوټونو کې د سیمې د نفتي زیرمو ونډه تر ۲۰۰ میلیاردو بیرلو پورې اټکل شوې ده. خو جیولوژیکی واقعیت بیا هغه یو څه بل ډول ښیي،په دې مانا چې د سیمې نفتي زیرمې مهمې دي، خو هغه باید د نړۍ د نفتو له نورو تولیدونکو سیمو سره په پرتله کې وارزول شي. آدامز زیاتوی، چې " د کسپین د سمندرګي د نفتو ثبوت شوي زیرمې، لکه د شمالی سمندرګي په څیر په اوس وخت کې ۵، ۱۷ میلیارده بیرله دي. خو جیولوژیکی شمېرنې بیا دا هم راپه ګوته کوي، چې د همدې سمندرګي په سویلي سیمه کې د شمالی سمندرګي په اندازه د نورو نفتواټکل هم کیږي" (-Körber .( Stiftung, 1998, S. 43
د کسپین سمندرګي د سیمې له ۳۰ – ۵۰ میلیارده بیرله نفت د نړیوال مقیاس له مخې د ارزښت وړ دي، خو هغه هیڅ کله د منځني ختیځ د نفتو له زیرمو سره د پرتله کیدو وړ نه دي. د سیمې د هایدرو کاربني زیرمو په اړه باید وویل شي، چې هغه په تیره د سیمې او نړیوالو ځواکونو د سیاسی لیوالتیا تر اغیز لاندې راغلي دي. د بیلګې په توګه سرې کولی شي، د امریکا او بریتانیا له اخځونو څخه دوه لاندینی لښتې (جدولونه) سره پرتله کړی، چې هر هیواد د خپلو اوږدمهاله ستراتیژیکو موخو پر بنسټ د سیمې د زیرمو په اړه بیلا بیلې شمېرنې وړاندې کړې دي. د ساری په توګه د متحدو ایالتونو د انرژۍ وزارت د کسپین د سمندرګي د نفتو د زیرمو اندازه له ۱۵ – ۲۹ میلیاردو بیرله او د ګازو زیرمې له ۲۳۵ – ۳۳۷ بیلیون مکعب فټو پوری ښودلي دي (وګوري، لومړی او دوهمه لښتې ).
لومړی لښتې :
د بریټش پترولیم له خوا د کسپین د سمندرګي د زیرمو ارزونه

| هیواد | نفت (په ملیاردو بیرلو) | ګاز (تریلیون / مکعب فټه) |
|---|---|---|
| آذربایجان | ۷ | ۳۰ |
| قزاقستان | ۸ | ۶۵ |
| ترکمنستان | ۰ | ۱۰۱ |

اخځ: British Petroleum, Statistics Review of World Energy, London, June, 1998, pp. 4

**دوهمه لښتې :**
د امریکا د متحدو ایالتونو د انرژۍ د وزارت له خوا د کسپین د سمندرګي د زیرمو ارزونه

| هیواد | نفت (په ملیاردو بیرلو) | | ګاز (بیلیون / مکعب فټه) | |
|---|---|---|---|---|
| | ثابت شوي | اټکل شوي | ثابت شوي | اټکل شوي |
| آذربایجان | ۶ ، ۳-۵ ،۱۲ | ۲۷ | ۳۱- ۴۰ | ۱۱ |
| قزاقستان | ۱۰ – ۶ ،۱۷ | ۸۵ | ۹۵- ۱۰۳ | ۵۳ – ۸۳ |
| ترکمنستان | ۷ ،۱ | ۳۲ | ۳۴ | ۹۸ - ۱۵۵ |

اخځ:
Energy Information Administration Caspian Sea Region, Washington, D. C., US-Government, Dec. 1998, p. 1
داسې بریښي، چې د سیمې زیرمو په رښتیا هم سیاسی بڼه غوره کړې ده او د هغو د ترلاسه کولو له پاره په ښکاره او پټه توګه مبارزه روانه ده. په همدې اړه د متحدو ایالتونو" د نوې پیړۍ له پاره د ملی امنیت په ستراتیژۍ" کې لولو: " د امریکا د متحدو ایالتونو له پاره د نفتو د پالیسی مانا د روسیې او ایران د هغو سیاسی ګټو د ترلاسه کولو مخنیوی دۍ، چې کولی شي د خپلو هیوادونو له لارې د نفتو د صادراتو د لارو په رامنځته کولو سره، هغه ترلاسه کړی" ( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 3). خو سره له دې هم سیمه بیز ځواکونه، په تیره بیا چین او روسیه له دغو زیرمو څخه د ګټې اخیستنې په تمه دي.
لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، د دغو پیژندل شویو زیرمو ونډه دومره ده، چې کیدای شی، په تیره د روسیې اقتصاد ته په پر له پسې توګه پیاوړتیا ور وبښي (وګوري Brzezinki, Zbigniew, 2003, S. 83-84 ).
له پورتنیو ګربنو څخه داپه ډاګه کیږي، چې د امریکا د متحدو ایالتونو ستره موخه پر سیمې باندې کنترول او په هغې کې د برلاسی (هژمونی) تر لاسه کول دي. خو امریکا په سیمه کې د روسیې د فدراسیون دا ډول اقتصادي پیاوړتیا او سیاسی اغیز د خپلو موخو له پاره یو ستر ګواښ بولی. ځکه نو دغه هیواد په دې هڅه کې دۍ، چې په سیمه کې د روسیې اغیز کم او د خپلې برلاسی له پاره شرطونه چمتو کړی. ځکه د شوروی اتحاد په له منځه تلو سره د متحدو ایالتونو اعلام شوی سیاست د روسیې په شا و خوا راچاپیریدل او د اروپا- اسیا د بنسټیز ځواک په توګه د هغې د سیمې کمول دي. د زبیګنیو بریژینسکی په اند دا کار باید له دریو خواوو تر سره شي، چې هغه شونی هم دۍ:

- له لویدیځ پلوه د ناتو او اروپایي ټولنې د پراختیا له لارې؛
- د ختیځ له لوری د جاپان، [سویلي] کوریا او تایوان د ټلوالې په رامنځته کولو سره؛

- له سويلی پلوه پر افغانستان، ايران، عراق او د روسيې په ګيډه کې ... د کسپين له سمندرګی او له قفقاز څخه نيولی تر اوکراين او ازبکستان پورې د يرغلونو له لارې. دغه سيمه د متحدو ايالتونو له پاره، يوه غوره مرۍ ګڼل کيږي اوغواړي دلته د نړۍ د انرژۍ زيرمي ډاډمني کړي (وګورئ:Ehlers, Kai, 2004, S. 1).
څکه نو په دې وروستيو کلونو او وختونو کې په دغو سيمو لکه کوزوو، افغانستان او عراق کې د مخامخ يرغلونو او په آذربايجان، ګرجستان او اوکراين کې په نا مخامخ توګه د سوله ييزو انقلابونو له لارې د لاسوهنو لړۍ روانه ده. په همدې اړه په ۱۹۹۷ کال کې د متحدو ايالتونو د هيواد د بهرنيو چارو د وزارت پخوانی مرستيال، شتروب تلبوت Strobe Talbott ويلی و: " زموږ لومړنی دنده بايد دسيمې د کړکيچونو هوارول وي، څکه [هغه] د انرژۍ د زيرمو د راايستلو له پاره تر ټولو مهم شرط ګڼل کيږي" (Mayer / Schmid,1999, S. 22 ). دا ډول شرطونه به هغو څو ملتيزه کانسرنونو او شرکتونو ته د پانګې اچونې له پاره لاره هواره کړي، چې غواړي هلته د زيرمو د راايستلو له پاره پانګه واچوي. څکه نو ان د بريتانيا پخواني لومړي وزيره، مارګاريت تاچر Margart Thatcher په خپله د همدې موخې له پاره د بريتش پتروليم د شرکت له دوو چکونو سره، چې د ديرش ميليونو ډالرو په ارزښت و، د اذربايجان پلازمېنې- باکو ته لاړه. سربيره پر دې په ۱۹۹۴ کال کې د نفتو څو ملتيزه کانسرنونو د يوې رسمي نمانځنې په ترڅ کې ژمنه وکړه، چې تر ۲۰۱۰ کال پورې به په سيمه کې له اوو ميلياردو ډالرو څخه زياته پانګه واچوی. دغه پانګه اچونه په ملګرو ملتونو کې د امريکا د متحدو ايالتونو د هغه وخت استازې، مادلين البرايت د يوويشتمې پيرۍ د ترون په نامه ياده او ځرګنده يې کړه، چې امريکا د قفقاز د سيمې د ثبات تضمينونکی ده (وګورئ: Christian Neef: 2000, S. 116 ). په دې توګه د روسيې فدراسيون " په منځنې اسيا کې خپل جيوپوليتکي امتيازات له لاسه ورکړل" (Christian Neef, 2000, S. 117) او دا د متحدو ايالتونو تر ټولو ستره موخه هم وه، چې په سيمه کې د روسيې د فدراسيون د ګټو او همدارنګه د پراختيا غوښتنې خند او که شوني وي،هلته خپلې ګټې تضمين کړی . د اړتيا په حال کې بايد د دغو اقتصادي ګټو له پوتنيساله او پانګې څخه لويديځ پوځيان ساتنه وکړی.
څکه د امريکا د متحدو ايالتونو حکومت نه يوازې د سيمې د انرژۍ اومه توکي، بلکې د هغو د ليږدونې لارې هم د خپلې او د لويديځې نړۍ د نورو هيوادونو د اقتصادي ودې له پاره اړين بولی. له همدې امله متحدو ايالتونو د تيرې پيرۍ په وروستې لسيزې او د رواني پيرۍ په پيل کې د بيلا بيلو پلمو پر بنسټ په هغو سيمو کې، چې يا طبيعي زيرمې، په تيره بيا نفت او ګاز او يا هم د هغو د ليږدونې له پاره ستراتيژيک ارزښت لري، له خپلې ټولوالې- ناتو سره په ګډه او يا هم په يوازې توګه يو لړ پوځې عمليات ترسره کړل، چې بنې بيلګې يې د نورو تر څنګ:
**الف**: د دغه هيواد د ګازو او د نفتي زيرمو د کنټرول له پاره دعراق لومړې او دوهمه جګړه ده. سربيره پر دې د نورو تر څنګ د دې جګړې لاملونه:
۱- په نړۍ کې د برلاسی د لاسته راوړلو له پاره د متحدو ايالتو هڅه او هاند؛
۲- په منځنې ختيځ او شا و خوا سيمو کې د برلاسی غوښتنې ادعا؛
۳- د سياسی سيالانو او د هغو د وسلو د پوتنسيال او په احتمالی توګه د کيمياوي او بيولوژيکي وسلو له منځه وړل او په کړکيچنو سيمو کې د خپلو وسلو له پاره د بازار تر لاسه کول (وګورئ: Scheffran, Jürgen, 2003, S. 5).
خو د مسرت Massarrat په اند د عراق د جګړې لاملونه د نورو تر څنګ:
۱- د نفتو پر راکړې ورکړې، ونډې او بيې باندې د اغيز ترلاسه کول؛
۲- د سعودی عربستان په وړاندې د يوه بديل رامنځته کول او د منځنې ختيځ د نفتو د توليدونکو هيوادونوتر منځه د سيالی پياوړی کول؛
۳- په خپل پوځې ساتندويه څواک پوری د اروپايي ټولنې، جاپان او نورو هغو هيوادونو، چې د نفتو زيات لګښت لرې، د تړلتيا (وابستکی) ساتل او د هغې لا پياوړی کول؛
۴- او په پای کې له يورو سره په نړيواله کچه د سيالي له پاره د پيسو د بنسټيز واحد (کليدی پولی واحد) په توګه د ډالرو له لا زياتې کمزورتيا څخه مخنيوي (وګورئ: Massarrat, Mohssen, S. 1).
**ب**: د يوګوسلاويا جګړه د هغې د ستراتيژيک پريوت له امله وه. څکه دغه هيواد او په تيره بيا د هغه سويلی ولايت کوزوو له اسيا او افريقا څخه اروپا ته د نفتو او ګازو نل ليکو (پايپ لاين) د غځولو د دهليز په توګه ګڼل کيږي. په پام کې ده، چې يوه نل ليکه د کسپين له سمندرګې څخه د تور سمندرګې د بورګاس Burgas د بندر له لارې بلغاريا او مقدونی ته او له دغه ځای څخه د کوزوو پولې ته ځيرمه د البانيا فلوری Vlore ته د ۱۳ ، ۱ ميلياردو ډالرو په لګښت وغځول شی (وګورئ Steinberg, Thomas Immanuel, 2001, S. 7). همدارنګه په پلان کې ده، چې له الجزاير او ليبيا څخه هم د نفتو او ګازو نل ليکې دې سيمې ته ورسيږې. د دغو نل ليکو څارنه د متحدو ايالتونو د پوځ دنده ده. له همدې امله دغه هيواد د ويتنام له جګړې وروسته له خپلو پولو څخه بهر تر ټولو ستره پوځې اډه په کوزوو کې جوړه کړې ده
(وګورئ Steinberg, Thomas Immanuel, 2001, S. 7).
ج: د دريمې زريزې لومړې جګړه د افغانستان جګړه ده او هغه هم د دغه هيواد د ستراتژيک پريوت له امله. څکه افغانستان "... کليد حکمفرمائی بر آسيای ميانه بوده و در ميان روسها، امريکائيان و سعوديها متداوماً اشتياقاتی را

بیدار نموده است. به این کشور در واشنگتن به مثابهٔ منطقه مطلوب انتقال نفت و گاز از آسیای میانه] به طرف جنوب، هند و پاکستان [ نگریسته میشود" (Brisard, Jean-Charles / Dasquié, Guillaume, 2002, S.20 ).

د همدې موخې له پاره متحدو ایالتونو خپل ګڼ شمېر پوځیان په دې ډول سیمو کې ځای په ځای کړي دي. متحدو ایالتونو په المان کې ۶۰,۰۵۳ پوځي پرسونل، په جاپان کې ۴۱,۲۷۵ پوځیان، په سویلی کوریا کې ۳۵,۶۶۳ سرتیري او افسران، په ترکیې کې ۱,۶۷۹ پوځیان، په منځني ختیځ لکه مصر، سعودی عربستان، کویت او بحرین کې په ټولیزه توګه ۹,۹۵۶ ، په افغانستان کې ۱۲,۰۰۰ او په ازبکستان کې ۱,۵۰۰ پوځیان لري (وګورئ: لاندنی لښتې او همدارنګه Todd Emmanuel, 2004, S. 110-111).

**په ۱۹۹۸ کال کې له متحدو ایالتونو څخه بهر د هغو ځای پر ځای شوي پوځونه**

| ګڼه | هیواد | شمېر |
|---|---|---|
| ۱ | المان | ۶۰۰۵۳ |
| ۲ | جاپان | ۴۱۲۵۷ |
| ۳ | سویلی کوریا | ۳۵۶۶۳ |
| ۴ | بریتانیا | ۱۱۳۷۹ |
| ۵ | بوسنیا هرځیګووینا | ۸۱۷۰ |
| ۶ | مصر | ۵۸۴۶ |
| ۷ | پانامه | ۵۴۰۰ |
| ۸ | هنګری | ۴۲۲۰ |
| ۹ | اسپانیه | ۳۵۷۵ |
| ۱۰ | ترکیه | ۲۸۶۴ |
| ۱۱ | ایسلند | ۱۹۶۰ |
| ۱۲ | سعودی عربستان | ۱۷۲۲ |
| ۱۳ | کویت | ۱۶۴۰ |
| ۱۴ | کوبا (ګوانتانامو) | ۱۵۲۷ |
| ۱۵ | کرویشیا | ۸۶۶ |
| ۱۶ | بحرین | ۷۴۸ |
| ۱۷ | مقدونیه | ۵۱۸ |
| ۱۸ | یونان | ۴۹۸ |
| ۱۹ | استرالیا | ۳۳۳ |

اخځ:
Emmanuel Todd: Weltmacht USA, 2004, S. 111-112

د متحدو ایالتونو د پلان جوړوني د لاربسود د ریپورټونو له مخې دغه هیواد له ډیرو کلونو راهیسې هڅه او هاند کوی، له دې څخه مخنیوي وکړی، چې" یو دښمن ځواک د نړی پر داسی یوې سیمې باندې خپله ولکه ټینګه نه کړی، چې د هغې د طبیعي زیرمو پر بنسټ یو نړیوال ځواک رامنځته کړی" (Mayer / Schmid,1999, S. 22 ). په ۱۹۹۳ کال کې د متحدو ایالتونو د هغه وخت د ولسمشر، بیل کلینتن، د ملی امنیت سلاکار هم په همدې باب ویلی و: " زموږ ګټې او ایدیالونه موږ دې ته اړ کوي، چې نه یوازې یو څه ترلاس لاندې ونیسو، بلګې باید هغه د عمل په ډګر پلي هم کړو. موږ باید ولسواکي او د آزاد بازار اقتصاد په نړۍ کې پر مخ بوځو، ځکه هغه زموږ د ګټو، امنیت او د ارزښتونو ساتندوي او همدارنګه امریکایي او نړیوال دي" (Mayer / Schmid,1999, S. 25 ). دا چې د متحدو ایالتونو له دې ډول ایدیالونو او ګټو څخه په څه ډول دفاع کیدای شی، د مادلین البرایت، سلاکار فریدمن Friedmann په ۱۹۹۹ کال کې په لاندې ډول روښانه کړي ده: " د دې له پاره چې ګلوبالیزم Globalismus (له اقتصادي پلوه د نړیوال کیدنې بهیر او پراختیا) په منظمه توګه پرمخ لاړ شی، باید متحده ایالتونه د یوه زبرځواک په توګه چلند وکړی او له دې څخه باید و نه ویریږي، ځکه همداسی هم ده. د بازار نا څرګند (نامرئی) لاس به هیڅکله بې له یوه نا څرګنده ځواکه عمل تر سره نه کړی او همدغه نا څرګند ځواک دئ، چې نړی د امریکا د کمپیوټري ټکنالوژۍ د سیمې (Silicon-Valley Technologien) له پاره ډاډمنه ده، دغه نا څرګند ځواک د امریکا د متحدو ایالتونو د هوایي، زمکني او سمندري ځواک، په مانا دئ" (Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 2). له دې سره جوخت دې ته هم په روښانه توګه نغوته شوي، چې متحده ایالتونه به چا ته اجازه ور نه کړی، ان د ملګرو ملتونو د پریکړو له مخې د دغه هیواد ملی ګټې له ګواښ سره مخامخ کړي. په دې اړه د دغه هیواد پخوانی ولسمشر، بیل کلینتن په ۱۹۹۴

کال کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې ته په خپله وينا کې ويلی و: " که چيرې زموږ د ملی امنيت ګټې له ګواښ سره مخامخ وي، نو که وکولې شو، له نورو سره به په ګډه عمل وکړو، خو که اړ شو، ان په يوازې توګه به هم دا کار تر سره کړو، موږ به له ديموکراسی څخه هم کار واخلو، خو که اړ شو، له زور زياتي څخه هم" (Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 2). د کلينټن له دغې وينا څخه دا پايله ترلاسه کيږي، چې نوموړي متحدو ايالتونو او همدارنګه ناتو ته د کړو وړو آزاد لاس ورکړ. دا خبره هغه وخت لا نوره هم په ښه توګه روښانه شوه، کله چې د ناتو پخواني عمومي منشی، خاوير سولانا Javier Solana په ډير ډاډ سره وويل: " موږ د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ته اړتيا نه لرو" (Mayer / Schmid,1999, S. 38). سربيره پر نوموړي، د متحدو ايالتونو لوړ پوړي سياستوال هم په همدې اند وو. د ۱۹۹۹ کال د فبرورۍ په څلورمه نيټه د دغه هيواد د بهرنيو چارو د وزارت پخوانی مرستيال، شترب تلبوت Strobe Talbott ويلي و: " له دې سره جوخت موږ بايد دې ته پام وکړو، چې ناتو د کومې بلې نړيوالې ادارې ترلاس لاندې رانشی. [...] دغه ټلواله بايد دا حق او آزادی ولري، تل هغه وخت عمل وکړي، کله چې د ټلوالې غړي هيوادونه د هغه په اړه د نظر يووالي ولري او هغه اړين وبولي" (Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 3)، دا چې د ناتو دغه کړه وړه به د کومو ستراتيژيکو موخو د تر لاسه کولو او همدارنګه تر کومو شرطونو لاندې تر سره کيږي، هغو ته په لاندې ډول نغوته شوې ده:" ناتو به دا وړتيا ترلاسه کړی، چې په نړيواله کچه له اروپايي او امريکايي ګټو څخه هر اړخيزه دفاع وکړي" (Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 3). خو دلته دا بنسټيزه پوښتنه رامنځته کيږي، چې ايا د ناتو تړون د دې وړتيا لری، چې د اتلانتيک د داړو خواوو له ګټو څخه په رښتينې توګه دفاع وکړی؟ په داسی حال کې چې د هغه هر يو غړي له هماغه پيل څخه د خپلو ستراتيژيکو ګټو او موخو د ترلاسه کولو له پاره خپله لار غوره کړې وه او اوس هم همداسی ده. د ساری په توګه د امريکا د متحدو ايالتونو پوځي عمليات په ويتنام، کوريا، پانامه او نورو ځايونو کې، د سويز د کانال له امله د فرانسې او بريتانيا هوايي بريد پر مصر باندې، د فرانسې لاسوهنې په افريقا کې او ان له متحدو ايالتونو سره په همدې وچه کې د طبيعي زيرمو په سر د دغه هيواد سيالې. په همدې اړه هانز کرونبرګر ليکی، چې د کانګو په جمهوريت کې " ... د امريکايانو په ملاتړ دا بری ترلاسه شو، څو له مرک سره لاس او ګريوان، بډې اخيستونکی، ستړی ستومانه او زورواکه موبوتو له واکه راوپرځول او پر امريکايانو مين کابيلا د هغه ځای ناستی شی. څو اونۍ وروسته د کانګو په ګاونډی هيواد، کانګو برازاويل کې تر نورو ښو ښانو لاندې پرمختياوې رامنځته شوې، امريکايان وشړل شول او فرانسويانو تر خپل اغيز لاندې سيمو ته پراختيا ورکړه. [په دغو دواړو هيوادونو کې] نظامونه هماغه پاتی شول، خو يوازې [په لومړې پيښه کې] پر اومه موادو باندې برلاسی له اروپا څخه امريکا ته وليږدول شو او په دوهمه پيښه کې د هغه بر عکس" (Hans, Kronberger,1998, S. 25-26).

کيدای شی، چې د ناتو د پوځي تړون مهم غړي هيوادونو داسی وښيي، چې د دوي تر منځه د ځينو ارزښتونو، د بيلګې په توګه ولسواکي او ګډ کلتور، د بشر د حقوقو د ساتنې او داسی نورو ...، پربنسټ د نظر يووالي شته ، خو که د ملی ګټو او وياړ پوښتنه رامنځته شي، بيا د ناتو د غړو هيوادونو د نظر په دغه يووالي کې په ښکاره توګه توپيرونه تر سترګو کيږي. د ملی ګټو په باب پالمرستون Palmerston ويلی و، چې" هيوادونه دايمي ټلوالې او دښمنان نه لري، بلګې يوازې د دوي ګټې دايمي دي". همدارنګه د ګټو تر څنګ د برلاسۍ او وياړ غريزه هم د انسانانو له پيدايښت سره سم له هغوي سره مل او ان په اوسنې زمانه کې هم د انسانانو تر منځ د هغې شتوالې په ښکاره توګه تر سترګو کيږي. په همدې اړه بريتانوی سياست پوه، ګيلبرت موراې Gilbert Murray ويلی: " موږ د نورو [ملتونو] تر منځه غوره ملت يو، ... د نورو ټولو له خوا رابلل شوي يو، چې په دوي باندې حکومت وکړو" (Kennedy Paul, 1994, S. 324). خو دا يوازې بريتانوی ملت نه و، چې دا ډول خيالونه يې په سر کې لرل، بلګې د دې موخې د لاسته راوړلو له پاره، نور ملتونه هم په دې هڅه او هاند کې وو، چې د دغه يا هغه سياست د پلی کولو له لارې په يو ډول نه يو ډول تر خپلو سيالانو زياته شتمنې او زيات وياړ ترلاسه کړی. لکه څنګه چې په همدې اړه د المان د هغه وخت لومړی وزير، بويلوف Buelow ، ويلی و،" مسله دا نه ده، چې موږ غواړو مستعمرې ولرو او که نه؟ بلګې موږ بايد مستعمرې ولرو، که د هغو غوښتونکي يو او که نه" (Kennedy Paul, 1994, S. 324).

همدارنګه په ۱۹۵۹کال، د اوسنی زبرځواک ياني د امريکا د متحدو ايالتونو يو سياست پوه جيمز واربورګ James Warburg هم د برلاسۍ غوښتنې ورته ناري د دغه هيواد د کانګرس په يوې کميټې کې پورته او ويلی يې و، چې " موږ به يو نړيوال حکومت جوړ کړو، که هغه د نيواک له لارې وی او که د خوښاوی (توافق) او جوړ جاړی (سازش) له لارې. که تاسو له هغه سره مينه لري او که پرته ستاسو له خوښې څخه وي " (Allen, Gary, 1995, S. 240). د انسانانو د شتمنې او په تيره بيا د وياړ د تر لاسه کولو دغه ډول غريزه، دوي سيالې ته رابولي، چې پايله يې د انسانانو تر منځه د ځواک د ترلاسه کولو له پاره د يو ډول پر له پسې مبارزې پيل دئ، څو نور په مستقيمه او يا غير مستقيمه توګه تر خپل نيواک او ولکې لاندې راولي. نو ځکه د ناتو د نوو دکترينو له طرحې وروسته هم د ناتو د مهمو غړو هيوادونو د نظرونو تر منځه، د پورتنيو موخو د تر لاسه کولو په سر توپيرونه تر سترګو کيږي، چې تر ټولو ښه بيلګه يې د دوي د عملياتو د تر سره کولو سيمې دي. لکه څنګه چې په مخکنيو ګرښو کې يادونه وشوه، متحده ايالتونه د نړۍ په هر ګوډ کې، چې دوي خپلې ستراتيژيکې ګټې ويني، د عملياتو غوښتونکي دي، په داسی حال

کې چې المان هم د عملیاتو پراختیا غوښتونکی دئ، خو یوازې په اروپا کې د مسؤولیت د ترلاسه کولو په هڅه کې دئ (وګورئ: Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S.1). خو فرانسه بیا د ناتو د اروپایي اړخ د غښتلي کیدو غوښتونکی ده. له همدې امله ان د بریتانیا حکومت، چې د متحدو ایالتونو له ترټولو نږدې پلویانو څخه ګڼل کیږي، د فرانسې دولت ته په تکتیکی ډول وړاندیز وکړ، چې په اروپا کې زیات مسؤولیت په غاړه واخلی. که څه هم د فرانسې دولت دغه وړاندیز د خندا وړ بولی، خو د بریتانیا د حکومت په اند " د فرانسې او بریتانیا دا ډول اړیکې دوي ته دا شونتیا ور په برخه کوی، چې د اروپا په بهرنی سیاست کې مخکښ رول په غاړه واخلی او په دې توګه المان ګوښه کړی" ( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 4). همدارنګه د سان مالو Saint Malo د تړون له مخې، چې د ناتو د غړو هیوادونو د نوو دندو بنسټ جوړوي، بریتانیا دا شونتیاوي تر لاسه کړې دي، چې د اروپا د ملی امنیت او دفاعی چارو په برخه کې ازاد چلند وکړی. ځکه د دوي په اند د دغه تړون پریکړې تر هر څه دمخه د ناتو دریځ پیاوړي کوی. خو فرانسویان بیا د دغو دندو په ترسره کولو کې د خپل هیواد دریځ ته د شک په سترګه ګوری. په اروپا او نړۍ کې د لا زیات مسؤولیت په اړه د دواړو هیوادونو بدل شوی دریځ «د مسؤولیت په اړه لفاظۍ» کې هم، چې د کوزوو د جګړې په ترڅ کې یې کوله، په ښه توګه څرګندیږي. د تونی بلېر په اند:" زما احساس دا دئ، چې بریتانیا په اروپا کې په خپل ټاټوبی کې ده، ځکه دغه هیواد په اروپا کې یو مخکښ ځواک دئ"( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 4). خو د هغه فرانسوی سیال بیا په خپل وار او د فرانسې د ویاړ په پام کې نیولو سره، خپل دریځ په دغو الفاظو روښانه کړ: " دا به یوه تیروتنه وي، که ادعا وشی، چې فرانسویانو له دې سره خوښاوی ښودلی، چې د امریکایانو سیاست تعقیب کړی. که د فرانسې هوکړه نه وای، یو هوایي برید به هم نه وی تر سره شوی" ( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S. 4).

له پورتنیو ارزونو څخه دا پایله تر لاسه کیږي، چې د ناتو د مهمو غړو هیوادونو د نظرونو تر مڼځه اوس هم په روښانه توګه توپیرونه لیدل کیږي. ځکه نو دې پوښتنې ته ځواب، چې ناتو به په څه ډول او کوم لوری پراختیا ومومی او دغه پراختیاوي به په نړیوال نظم باندې څه ډول اغیز ولری، ګران کار دئ. خو سړی کولی شی، ادعا وکړی، چې د دغو پراختیاوو په بهیر کې د متحدو ایالتونو او اروپایي ټولنې ترمنځه اړیکې ټاکونکې دي. د دغو دواړو ځواکونو ترمنځه ترټولو دمخه جدی اقتصادي کړکیچونه، چې د نورو ترځنګ ترټولو زیات د ډالر- یورو په ښه ځانګړې کیږي، بنسټیز رول لوبوی (وګورئ: Engdahl, F. William, American Century 2003. S. 5). د همدې لیکوال په اند:

" په نړۍ کې د متحدو ایالتونو برلاسی (تفوق) په بنسټیزه توګه پر دوو ستنو ولاړ دئ:

- د هغه د ځواکمن پوځ برلاسی، په تیره بیا په سمندرونو کې،

- ډالر د نړیوالې پیسې د زیرمې (ریزرف) په توګه او د هغه د رول له لارې د نړۍ پر اقتصادي بهیر باندې کنترول" (Engdahl, F. William, American Century 2003, S. 2).

د متحدو ایالتونو د دولت په اند، که څه هم اروپایي ټولنه یوه ځواکمنه اقتصادي سیاله ده، خو په دې کې شک لیدل کیږي، چې هغه به په راتلونکی نږدې وخت کې داسی یو اقتصادی پوتنسیال رامنځته کړی شی، چې د متحدو ایالتونو د برلاسی په وړاندې خنډ وګرځی. خو د متحدو ایالتو د دغه اند برعکس، پول کندی Paul Kennedy ، چې په خپله یو امریکایي سیاست پوه او لیکوال دئ، په خپل کتاب «د سترو ځواکونو رامنځته کیدل او له منځه تلل» کې لیکی: متحده ایالتونه د "واکمنې (حاکمیت) پراختیا ګواښوي، چې دا یو له حده زیات سیاسی او پوځي فشار دئ او هغه په معمولی توګه تل د اقتصادي ځواک د کمزورتیا په توګه رامنځته کیږي" (Emmanuel, Todd, 2004, S. 21). سربیره پر نوموړي لیکوال، فرانسوی ژورنالست، ټولنپیژندونکي او لیکوال، ایمانویل تود Emmanuel, Todd هم په دې اند دئ او وایي، چې سړی باید د تیرې پیړۍ د وروستیو پنځو لسیزو امریکا ته د یوه مهربانه حاکم او د سیاسی او اقتصادي آزادیو د ساتونکی په سترګه وګوری او دغه هیواد د " خپلو پوځي، ایدیالوژیکو او اقتصادي زیرمو له برکته، د یو نړیوال ځواک ځانګړتیاوي لرلې. د نړۍ پر هغې برخې باندې د لیبرال اقتصاد د ارونو (اصولو) ولګه، چې د متحدو ایالتونو تر سیاسی او پوځي کنترول لاندې وه، بالاخره ټولې نړۍ ته بدلون ورکړ او دا هغه بهیر دئ، چې موږ هغه د نړیوال کیدو په نامه یادوو او د وخت په تیریدو سره یې واکمن هیواد هم له ژورو بدلونونو سره مخامخ کړ، د هغه اقتصادي ځواک یې کمزوري او ټولنې ته بدلون ورکړ. ... او د اړیکو له پلوه متحدو ایالتونو په هغې سیمې پورې تړلتیا (وابستګی) ومونده، چې پر هغې باندې واکمن وو" (Emmanuel, Todd, 2004, S. 29-30). که سړی د متحدو ایالتونو اقتصاد تر ژورې څیړنې لاندې ونیسي، دا ورته روښانه کیږي، چې دغه هیواد د نولسمې پیړۍ په بهیر او د شلمې پیړۍ تر اوومې لسیزې پورې د یو په خپلو متو ولاړ (خود کفأ) اقتصاد خاوند او د هغه اقتصادي ودې د اروپا او نورې نړۍ د پانګې له بهیر او همدارنګه د لوړو او مسلکي زده کړو د خاوندانو له ورتګ څخه سر چینه اخیسته. لکه چې ایمانویل تود په همدې اړوند لیکی: " په ۱۹۴۵ کال کې د متحدو ایالتونو ناسوچه ملی تولید د ټولې نړۍ د نیمایي ناسوچه ملی تولید په اندازه و او د دغه هیواد برلاسی هم په روښانه توګه تر سترګو کیده" (Emmanuel, Todd, 2004, S. 29). خو د تیرې پیړۍ د شپږمې او اوومې لسیزې په ترڅ کې د هغه اقتصاد، له جدی ستونزو سره مخامخ شو، چې بنسټیز لامَلونه یې د نورو تر څنګ د ویتنام جګړه، سړه جګړه او

د کمونیستي سیستم د ګواښ په وړاندې د وسلو پراختیا او د هغو سیالي وه، چې دغه لګښت د متحدو ایالتونو بودجه له ستر کسر سره مخامخ کړه. د متحدو ایالتونو د بودجې کسر په ۱۹۶۷ کال کې نهه میلیارده ډالره و، چې دغه کسر په ۱۹۶۸ کال کې پنځه ویشتو میلیاردو ډالرو ته لوړ شو (وګورئ: Engdahl, F. William, Mit der Ölwaffe 2003, S. 179-180). د متحدو ایالتونو دولت د خپلې بودجې د کسر د له منځه وړلو له پاره په بې سارې توګه ډالر چاپ او نړیوال بازار ته د چلند له پاره وړاندې کړل. په دې توګه ډالرو هم ورځ په ورځ خپل ارزښت له لاسه ورکړ.
له دغې ارزوني دا پایله ترلاسه کیږي، چې دغه هیواد له ډېرې مودې راپدیخوا له سختو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان و او اوس هم دئ. په هانوور کې د پیستل د انسیستیوت Pestel-Institut یوې څیړنې دا روښانه کړې، چې متحده ایالتونه په ۱۹۹۹ کال کې له بهرنیو هیوادونو څخه ۱،۴ بیلیونه ډالره (خالصه) پوروړي وو او د اټکل له مخې دغه پور په ۲۰۰۳ کال کې له ۳،۷ بیلیونه ډالرو څخه هم زیات و (وګورئ: Engdahl, F. William, 2003, S. 10). د دغه هیواد د بهرني سوداګرۍ بیلانس هم د لومړي ځل له پاره د تېرې پیړۍ په اومه لسیزه کې منفي بڼه غوره او دغه کسر کال په کال مخ په زیاتیدو شو. هماغه و، چې د متحدو ایالتونو " د بهرني سوداګرۍ د بیلانس کسر د ۱۹۹۰ او ۲۰۰۰ کلونو تر منځ له سلو میلیاردو څخه ۴۵۰ میلیاردو دالرو ته ورسید" (Emmanuel, Todd, 2004, S. 30)، چې له دې ټلې څخه "۸۰ میلیارده یې د نفتو د واردولو له امله و" (Emmanuel, Todd, 2004, S. 177). د سوداګرۍ دغه منفي کسر لکه څنګه چې یادونه وشوه، د انرژۍ د سکتور په برخه کې په بڼه توګه تر سترګو کیږي. دغه هیواد په ۲۰۰۱ کال کې ۳۵۳ میلیونه ټنه نفت تولید کړي، خو د نفتو لګښت یې په همدې کال کې ۸۹۵ ملیونه ټنه و (وګورئ: Die Zeit, Nr.: 8, 13. Februar, 2003, S. 8). نو څکه متحده ایالتونه دې ته اړ وو او دي، چې د خپلو نفتو د لګښت پاتې برخه د نړۍ له نورو هیوادونو څخه راوارده کړي. (وګورئ: لاندنی لښتی).

**په ۲۰۰۱ کال کې د متحدو ایالتونو د نفتو واردات (شمیرنې په میلیونو بیرلو)**

| هیواد | د وارداتو اندازه | هیواد | د وارداتو اندازه |
|---|---|---|---|
| الجزایر | ۳ | کانګو (برازاویل) | ۱۶ |
| کانګو (کینشاسا) | ۵ | مصر | ۲،۵ |
| عراق | ۲۸۵ | مالیزیا | ۵ |
| ایران | -- | نایجریا | ۳۰۹ |
| قطر | -- | اکوادور | ۴۳ |
| کویت | ۸۸ | کانادا | ۴۸۵ |
| عمان | ۶ | مکسیکو | ۴۹۸ |
| سعودی عربستان | ۵۸۵ | د انتیل تاپوګان | ۶ |
| متحده امارات | ۵ | پیرو | ۲،۵ |
| انګولا | ۱۲۲ | ترینیداد او توباګو | ۱۹ |
| بورنیو | ۲ | ونزویلا | ۵۲۰ |
| چین | ۵ | اندونیزیا | ۱۵ |
| | | | |
| د نړۍ پاتې هیوادونه | | | ۴۵۳ |

اخځ:
Emmanuel Todd: Weltmacht USA, 2004, S. 177

له پورتنې ارزونې څخه دا پایله تر لاسه کیږي، چې متحده ایالتونه نه شي کولی، د خپلو وګړو د ژوند اوسنۍ کچه پر خپلو کورنیو محصولاتو سمبال کړي. همدغه اقتصادي کمزورتیا ده، چې د دغه هیواد له پاره د داسې یو نظام دفاع، چې بنسټ یې لیبراله دیموکراسي وي، نور ارزښت نه لري، بلکې "د بیلا بیلو کالیو او پانګې سمبالول اوس د متحدو ایالتونو له پاره لومړۍ درجه مسأله ده. د متحدو ایالتونو د ستراتیژیکي موخې بنسټ د ټولې نړۍ پر [طبیعي] زیرمو باندې سیاسي کنترول دئ" (Emmanuel Todd, 2004, S. 37). د دې موخې د تر لاسه کولو له پاره، دغه هیواد په هر ډول هڅې او هاند لاس پورې کړی، خو په دې ترڅ کې "اوس په خپله نوموړی هیواد په زیاتیدونکي توګه د نړیوالې بې نظمۍ د عامل په توګه رامنځته کیږي او هر چیرته چې وکولی شي، له بې ثباتۍ او کړکیچ څخه ملاتړ کوی" (Emmanuel Todd, 2004, S. 13).

پای

اخځونه:

- Allen, Gary: Die Insider: Baumeister der „ Neuen Welt-Ordnung, Oldendorf, 1995
- Brisard, Jean-Charles /Dasquié, Guillaume: Die verbotene Wahrheit: die Verstrickungen der USA mit Osama bin Laden, Zürich, München, 2002
- British Petroleum, Statistics Review of World Energy, London, June, 1998
- Brzezinski, Zbigniew: Die einzige Weltmacht: Amerikas Strategie der Vorherrschaft, Frankfurt am Main, 2003
- Ehlers, Kai: Domino im Kaukasus- über „Filetstücke“ auf dem „eurasischen Schachbrett“ und eine Betrachtung zu Russlands Wachstumskräften, 2004
- Energy Information Administration: Caspian Sea Region, Washington, D. C., US-Government, Dec. 1998
- Engdahl, F. William: Ein neues „American Century“? Der Irak und die heimlichen Euro-Dollar-Kriege, 2003, http://www.zeit-fragen.ch/ARCHIV/ZF_106a/T05.HTM
- Engdahl, F. William: Mit der Ölwaffe zur Weltmacht, Der Weg zur neuen Weltordnung, Wiesbaden, 2003
- Kennedy, Paul: Aufstieg und Fall der Grossen Mächte, Frankfurt am Main, 1994
- Körber-Stiftung (Hrsg.): Energie und Geostrategie im kaspischen Raum – Akteure, Interessen, Konfliktpotentiale, Hamburg, 1998
- Kronberger, Hans: Blut für Öl: Der Kampf um die Ressourcen, Wien,1998
- Massarrat, Mohssen: Öl und Geostrategie: Der Irak-Krieg war mehr ein Währungskrieg, http://www.staytuned.at/sig/0032/32889.html
- Mayer, Leo/Schmid, Fred: Welt-Sheriff NATO: Weltwirtschaftsordnung und neue NATO-Doktrin, München, 1999,
- Neef, Christian: Griff nach dem Öl; in Spiegel Nr.: 2, 2000
- Scheffran, Jürgen: Terror und Energie-Sicherheit – Ein neuer Krieg um Öl, Bonn, 2003
- Schoultz, Larz, Nationale Sicherheitspolitik der USA gegen Lateinamerika, Princeton, 1987
-Steinberg, Thomas Immanuel: Kriege um Transportkorridore, 2001, http://steinberg.populus.ch/rub/2
- Todd, Emmanuel: Weltmacht USA: Ein Nachruf, 2004, München, Zürich
- Uchatius, Wolfgang: Der wichtigste Preis der Welt, in: Die Zeit, Nr.: 8, 13. Februar, 2003
- Wagner, Jürgen/Seifert, Andreas: Die neue Nato-Strategie, Informationsstelle Militarisierung, Tübingen